zhwak.com

اسدالله زمری

په هلمند کې د روان ناتار په اړوند

# دوزخي تنده

د وطن له کلی –کوره ، جګه بیا د ویر ژړا ده

کاږو- بوټو اور اخیسی ، د ظلمونو انتها ده

د شیطان دوزخي تنده، بیا په سرو وینو ماتیږي

د ماتم ساندو ته نا څي ،تور مرګي ته په خندا ده

ملا ، کمان د زاړه بُست شوه ،له غیرته ویلې کیږي

دمارجې -نادعلي څمکه، هر انسان ته کربلا ده

د وحشت شین سترګی دیو دی، یاغي شوی شنه وادې کې

کانې چوي نن له هیبته، د مرګونو بیا غوغا ده

د ساړه ژمي محشر کې ،ده دی بل محشر جوړ کړی

د بیوزلو انسانانو ، په شا کږه دلته بیا ده

د هلمند په سین کې وینې، د اوبو پر ځای خوټیږي

د بغرا مری غوڅیږي سره په وینو، تري دنیا ده

بیاد سپینې پنبې رنګ ته وینی غواړي له انسانه

د رخام ښکلو رګوکې، له ناتاره واويلا ده
د ملالې سر سر تور دی، د ټپې زړه يی ټپي ده

د ميوند د ماتې غچ کې ، د افغان په کور بلوا ده
د سالنګ مرګونه کم وه ،ستا د وينو اشتها ته

چې هلمند ته دې راوړې، د ورانۍ او مرګ بلا ده؟
څومره نور بيګناه خلک ،په يوه – بل نامه وژنې؟ !

دا خو ستا مخلوقات نه دي، که ولجه پری نن دتا ده
ستا سي خيرنه مو توبه ده ،نور د مرګ شر رانه بچ کړه

ستا سې مرستې ځينې تير يو ، چې مو رحم هم تعدا ده
چې يې خپل بچي پردي شول ،له پردو نه څه ګيله ده؟

د وطن او ورور نيستۍ ته خپل افغان توره تر ملا ده
د افغان د وينو موج ته، هرچا سترګې دي ګنډلې

اوريدو ته د فغان يې بيا کڼه ټوله دنيا ده
د لندن په اشاره بيا ، په افغان ناتار جوړيږی

د وژلو کنفرانس دی پرې د لراو بر سلا ده
چې څاروان د کاروان غل شو ،نو همدا د ژړا ځای دی

نن د سولې لويه دښمنه، متحده امريکا د ه
که اخوان که القاعده ده ، د انګريز د لاس نيالګي دي

چې په مونږ يې را تپې اوس ،دا د کوم لوري خطا ده؟

د ډېر ظلم نتيجه ده ، چې نن هرافغان طالب شو

ګناهکار سلامت ګرځي ، بېګناه ورړ د سزا ده ! !

نور د قهر غواړو خدايه يا مو ورک کړه يا يې ورک کړه !

دا دعا له عاجزۍ نه، که له درد ډکه ښيرا ده

۲۰۱۰/۲/۱۱